**بسم الله الرحمن الرحيم**

## کوم کس زمونږ د زړونو اور مړ کوي؟

سهل بن معاذ رضی الله عنه له خپل پلار څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ، دَعَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رُءُوسِ الْخَلاَئِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ اللَّهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مَا شَاءَ»** (سنن ابو داوود).

*__ژباړه__: هر هغه څوک چې خپله غوسه کابو کړي، په داسې حال کې چې د عملي کېدو وس یې لري (یا غچ اخیستلی شي)، الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د ټولو خلکو په مخکې راوغواړي او هغه ته به واک ورکړي چې د جنت څومره ښکلې حورې چې غواړي، د ځان لپاره یې دې خوښې کړي.*

دغه حدیث شریف د یو شمېر هغو انسانانو په اړه خبره کوي، چې نه یوازې په دغو ورځو کې کم پیدا کېږي او شمېر یې لږ دی، بلکې د تاریخ په اوږدو کې هم لږ وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل اصحاب نېکو اخلاقو ته چې د غوسې له کنټرول څخه عبارت دي، هڅول؛ په داسې حال کې چې اصحابو تقوا او د زړه سلامتي درلوده او قران کریم هم هغوی ته نازل شوی و، خو نن ورځ زمونږ او د اصحابو تر منځ ډېر واټن دی. د دنیا ناروغۍ په مونږ کې څپې وهي او مونږ له داسې کمزورۍ او ذلت سره مخ یو، چې زمونږ په ژوند کې د باطلو رواجونو او دودونو د ډېرېدو له امله راګرځېدو لامل شوی دی؛ پر همدغه اساس مونږ ډېر غوسه کېږو.

له یوې خوا وینو چې زمونږ زړونه د تر ټولو نږدې ملګرو او خپلوانو په اړه له غوسې ډک دي او د غوسې موخه چې په یاد حدیث شریف کې بیان شوې، همدا غوسه ده چې انسان یې د خپلو دیني وروڼو په اړه لري. د دې غوسې د کمېدو او کنټرولېدو اجر او بدله هغه جنت دی، چې یوازې هغو کسانو ته رسېږي چې شپه او ورځ یې د تر لاسه کېدو لپاره هڅې کوي. الله سبحانه وتعالی د قیامت په ورځ د ټولو په مخ کې پر هغو کسانو غږ کوي، چې خپله غوسه کابو کوي او هغوی ته دا واک ورکوي، چې د جنت حورې ځانته خوښې کړي. نو د هغه چا لپاره چې خپله غوسه کابو کوي، په داسې حال کې چې د عملي کېدو وړتیا یې لري، څومره ستره درجه ده.

له بلې خوا متوجه کېږو چې پر مسلمانانو د اسلام د دښمنانو ظلم زمونږ په زړونو کې لویه غوسه راپارولې ده. پر دې سربېره چې پر بندګانو د الله سبحانه وتعالی حکم نه پلی کېږي، خپله غوسه پر دښمنانو هم نه شو سړولی. دغه غوسه ورځ په ورځ زیاتېږي او د اسلام دښمنان هم په پرله‌پسې توګه مونږ ته فساد او تباهي راوړي؛ په داسې حال کې چې مونږ هېڅ داسې قدرت نه لرو چې هغوی له ځان څخه لرې کړو، خو دا چې یوازې د الله سبحانه وتعالی هغه نصرت ته په تمه شو، چې له مونږ سره یې ژمنه کړې ده.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې پر مونږ داسې کس واکمن کړي، چې زمونږ غوسه لرې کړي او د الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د رضا په خاطر له کفارو څخه د غچ اخیستلو زمینه راته برابره کړي. دا د الله سبحانه وتعالی لپاره سخته نه ده. اللهم آمین

**لیکوال: ډاکتر ماهر صالح**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**